پوهنمل حاجی محمد نوزادی ۲۰۱۱/۱۰/۱۳

# د نړۍ د ټولو خوراکی موادو دریمه برخه ضایع کیږی

یوه ورځ می په د یوه نړیواله افغانی تلویزیونی شبکه کی لیدل چی دکابل ښار په یوه سیمه ګی چی شاته یی د شیرپور سیمی ډیر ښکلی او تازه اباد شوی بلډینګونه ښکاریدل، یوه ډیره غریبه سپین سری ښځه ناسته ده او د ژمی په ریږدونکی ساړه موسم کی یوه واړه نیم لوخ ماشوم ته د ډبری پشان وچه کلکه شوی ډوډی په یوه ګیلاس کی چی ښایی اوبه به وریکښی وی، غوټه او چی کله په لږ غوندی نرمه شوه، هغه ماشوم ته به یی په خوله ورکوله. ماشوم به بیا دغه نرمه شوی ډوډی په ډیره مزه خوړل. میرمنی می بچیانو ته ناری کړی چی راشی و ګوری هلته هغه بیچاره ګان څه شی خوری او تاسی دلته په خوندور کباب خوله ولګوی، یوه وړه ټوټه تری نه وخوری او نور ټول وغورځوی. اخر دغه ماشوم هم تاسی پشان پر مور او پلار باندی ګران دی خو هغوی دومره څه نلری چی د خوړلو دپاره یی دخپل زړه ټوټه ماشوم ته ورکړی . دخدای نه وډاریږی ، کبر مه کوی او دخدای شکر پر ځای کړی.
ماشومانو ته چی دلته په اروپا کی ستر شویدی، دمور خبری بیخی بی مانا ښکاریدی ځکه هغه د وطن تنګدستی یی اوس اصلا له یاده وتلی او د لوږی په مفهوم بس دومره پوهیږی چی ګیډه می خالی شوه او باید یو خوندور شی ور واچوم. دوی دلته په اروپاکی دلوږی او تندی په هکله یوازی دومره پوهیږی او لدی نه پرته نه ورته په زړه پوری ده او نه یی هم وربانده دپوهیدلو اړتیا وینی. زه ډیر وختونه د دوی پام هغو ستونزو ته را ګرځوم چی هیواد اوخلګ مو اوس هلته په وطن کی ورسره لاس او ګریوان دی. دوی یوازی پدی خاطر چی زه خفه او په قهر نشم، ظاهرا یی غوږ نیولی وی مګر فکر او چرت یی بیخی بلی خواته وی، داځکه چی دوی لوږه د یوی ټولنیزی زړه بوګنونکی پدیدی په توګه نه پیژنی. دا یوازی زما بچیان نه بلکه په اروپاکی دهری کورنی همدی ته ورته حال دی. داخبره تر یوی کچی دپوهیدو وړ ده ځکه چی د انسان ټول کړه وړه دچاپیریال تابع دی او دلته په اروپا کی واکمن چاپیریال داسی دی چی ماشومان دخپل پلرنی هیواد دټولنیزو ارزښتونو، ستونزو او خوښیو څخه پردی لوئیږی. داکار دیوی خوا د چاپیریالی جبر له مخی تر سره کیږی او له بل لوری د ځینو نازی ډوله کړیو لخوا نه قصدا ورته دماشومتوب نه تبلیغ کیږی څو پلرنی وطن له یاده وباسی.
رابه شو دلته به د حاکم چاپیریال نه خبر واخلو چی هغه د لوږی د مفهوم سره څومره بلدیت لری او څه ډول چارچلند ورسره کوی:
یو وخت می دلته د ډنمارک په یوه موسسه کی پراکتیک کاوه. یوه ورځ لږ ناوخته کانتین ته راغلم چی نژدی ټولو کسانو ډوډی خوړلی وه او کارکوونکو یی غوښته چی پاک کاری وکړی. ما ولیدل چی په یوه زیات مقدار خوراکی مواد لکه سری کړی غوښی. ایشولی وریجی ، تازه پخه کړی ډوډی، یو ښانک جوړه کړی سلاته، سره کړی کچالو او نور ډیر شیان یی د کثافت په تورو غټو کڅوړو کی اچول چی و یی غورځوی. ماچی لومړی ځل دا کار ولید، حیران پاته او پوښتنه می ورنه وکړه چی دا خو ټول د خوراک وړ شیان دی او تاسی یی ولی غورځوی؟ دوی وویل چی اوس دکانتین د تړلو وخت دی، نور دلته څوک نه راځی اوسباته یی د خرڅولو اجازه نلرو. ما وویل چی ولی یی کورو ته نه وړی او یا یی بل چاته نه ورکوی. دوی وویل چی ددی شیانو وړلو ته نه څوک اړتیالری او نه هم کورونو ته یی د وړلو اجازه شته، مقررات داسی دی چی باید و غو ځول شی او موږ که ټاکلی مقررات عملی نکړو، خپله دنده د لاسه ورکوو. دمقرراتو عملی کول دلته د حیرانتیا وړ خبره نده ځکه چی مقررات د همدی دپاره وضع کیږی چی باید حتما عملی شی. خوداخبره زما د پاره دحیرانتیا وړ خبره دا وه چی ولی باید داسی مقررات وضع شی د کومو له مخی چی دلوړ کیفیت لرونکی خوراکی شیان کثافتدانیو ته غورځول کیږی.
زما یوه ګاونډی افغان په یوه سوپرمارکیټ کی کارکاوه. کومه ورځ هلته دسودا پخاطر تللی وم، و می لیده چی څو کریټه میوی او تور بادنجن چی دلته خوراګران هم دی د لاس په ګاډۍ کی بارکړی او دکثلفت بیلرو ته یی اچوی. کله چی می دعلت پوښتنه تری وکړه هغه وویل چی پدی کریټونو کی څو دانی خوسا شویدی او موږ باید ټول کریټ و غورځوو. دوی هم د وړلو یا چاته ورکولو اجازه ندرلوده.
یوه ورځ می په ورځپاڼه کی ولوستل چی ډنمارکیان په منځنی ډول دخپلو خوراکی توکو دریمه برخه خوشی غورځوی. زما د پراکتیک د ځای دهم هغه کانتین د کارکوونکوخبره را یاده شوه او ددی کار امکان می لیری و نه باله .
دادی تیره ورځ می د (24timer) پنامه دډنمارکی ورځپاڼی په ۱۸ / ۵ / ۲۰۱۱ ګڼه کی تر لوړ سرلیک لاندی یوی لنډه کی غوندی لیکنی ته پام واوښت چی پښتو بڼه یی داده:
« په نړیواله کچه خورا ډیر خوراکی توکی ضایع کیږی او په ځانګړی توګه په لویدیز کی دا کار په ډیر ناوړه ډول ترسره کوی داځکه چی هرکال دلته د یوه نفر پر سر نژدی ۱۰۰ کیلوګرامه خوراکی مواد غورځول کیږی. داهغه څه


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

دی چی د ملګرو ملتونو دخوراکی موادو دسازمان FAO ) په راپور کی چی په ۱۷ /۵ / ۲۰۱۱ نیټه د ( خوراکی مواد مه ضایع کوی!) تر شعار لاندی د نړیوال کانګرس په غونډه کی کوم چی د( Dusseldorf) (جرمنی. ژباړ) په ښارکی دایر شوی وو، راغلی دی. راپور زیاتوی چی دنړی د ټولو خوراکی توکو دریمه برخه بیخی ضایع کیږی او ددغو ضایع شوو موادو کلنۍ کچه ۱،۳ میلیارد ټنو ته رسیږی.

په ډنمارک کی د کرهنی او خوراکی موادو د چارو مشر سلاکار Klaus Jorgensen په راپور کی راغلی داخبره دحیرانتیا وړ نه بولی او دی پدی اند دی چی دضایع کیدونکو خوراکی توکو اندازه لدی نه هم زیاته ده او باید هرڅه ژر پدی اړوند اړین تدابیر ونیول شی. په نوموړی راپور کی دا یادوونه هم شویده چی دغه ضایع کیدل تر ډیره حده په لودیزه نړی کی تر سره کیږی او یو اړخ یی مصرف کوونکی خلګ دی چی همدارنګه دا بیځایه کار تر سره کوی » . د ژباړی پای .

<u>یوه اړینه یادونه:</u>

پدی کی هیڅ شک نشته چی دانرژۍ اوسنې سرچینې نه ختمیونکې او لایزال ندی. په ځمکی کښي دتیلو او طبعی ګازو معد نونه دتل دپاره دانسانانو اړتیاوو ته ځواب ویلای نشی، ځکه نو انسانان مجبور دی دانرژۍ نور ډولونه او سرچینې پیداکړی. مګردا خبره هم دیادولو وړ ده چی تر اوسه لا دځمکی په ګیډه کی په ډیر مقدارسره کشف شوی تیل او ګاز پراته دی چی دڅونوروډیرو نسلونو اړتیاوی هم پوره کولای شی. لدی نه پرته هغه ذخیری چی لاتراوسه کشف شوی ندی هم په ډیر مقدار سره داټکل وړ ګڼل شویدی. دتیلو اوګازو دزیرمو داډول میدانونه نه یوازی په افغانستان بلکه دنړۍ په ډیرو هیوادونو او په ځانګړې توګه دځمکی په شمالی قطب کښی دپام وړ ارزښت لری. لدی نه چی هم تیر شو، امریکا همداوس په نړۍ کښی دتیلو ډیری ستری کشف شوی زیرمی لرې چی اکثره ئی قصدا کنسرو کړیدی. ددی خبری معنا داده چی دوی دخپلو ذخیرو څخه کاراخیستل اوږدی راتلونکې ته ځنډولی او په حقیقت کی دامعدنونه دستراتیژیکو زیرمو په توګه ساتل کیږی . پخپله امریکایان داګړۍ دهغو تیلو څخه کاراخلی چی دبهر نه ئی رانیسی. د دی بر سیره دوی د جوارو ډیره برخه کومو ته چی دخوراکی توکو په موخه نړۍ اړه ده، دبیوانرژی دلاسته راوړلو پخاطر پروسس او کاروی. بیو انرژی هغه انرژی ده چی د فوسیلی انرژی (تر ځمکی لاندی زیرمی) پر ځای ورنه کار اخلی، د بیلګی په توګه د نباتی پیداوارو څخه دسوزلو وړ بنزین جوړول او په موټرانو کی ورڅخه د تیلو په توګه کار اخیستل. دا پلمه چی ګویا دبیوانرژی (مثلا داګړۍ جواری چی ډوډۍ ده) کارول دفوسیلې انرژی (بنزین) په پرتله د چاپیریال د ستره ساتلو دپاره ګټور کاردی، دنړیوالو قناعت تر لاسه کولای نشی او ان داچی دبشر پرضد ئی دجنایت سره په یوه ترازو کی تلې. کله چی ټولې نړۍ په سترګو ولیدل چی دځمکی د اقلیم د ګرمیدو دمخنیوی په چارو او د اټموسفیر د کاربن ډای اکسایډ CO2 په کمولو کښی دامریکا دولت تر دا اوسه پوری لاهم دپام وړ مرستې نه ځان کاږی، بیانو ډیره ګرانه خبره ده چی نړیوال به ئی نوموړی پلمې ته په درنه سترګه وګوری . دامریکا دولت که د سعدی علیه الرحمه ددی مقولې سره ځان همغاړی بولې چی:

| | |
|---|---|
| بنی ادم اعضای یکد یگرند | چودرافرینش زیک جوهرند |
| گرعضوی بدرد اورد روزگار | دیگر عضوهارا نماند قرار |

نو باید پدغه ناورین کښی دبیوانرژۍ دکارولو نه لاس واخلې اوددی خبری په پام کی نیولو سره چی یوازی په ۲۰۰۷ میلادی کال کی پر وسلو او نورو نظامی چارو باندی دامریکا لګښتونه پنځه سوه او اوه څلویښت میلیارډه (۵۴۷ ۰۰۰ ۰۰۰۰۰۰) ډالره وه، چی دا ددوهمی نړیوالې جګړې راوروسته پدغه چارو کی د امریکا ترټولو زیات لګښت او دټولې نړۍ دنظامی بودجی نیمه برخه جوړوی (د hedsavisenNy ورځپاڼه ۲۰۰۸ جون ۲۰)، نوبیا امریکا ته پکارده خپل دلګښت وړتیل دخپلو فوسیلی زیرمو څخه تر لاسه کړی. پدی کار سره به دیوی خوا په نړیواله کچه د بنزینو نرخونه را ټیټ او دبلی خوا به په سپما شوو جوارو باندی دډیرو خوارو وګړو ژوند وژغورل شی. داخبره هم په یادولو ارزی چی انسانان به یو وخت د ډیری ارزانی انرژۍ د ډولونو په موندلو بریالې شی، بیا به نو دامریکا دتیلو پراخی زیرمی بیکاره پاتې او دهیچا په درد به و نخوری : سپمولې سپو خوړلې. والسلام


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ